# د ژوندي درويش ژوندۍ شاعري

مشتاق مجروح يوسفزے

«دا بوټي به لونګ شي» د ښاغلي عبيدالله درويش دراني نوې شعري مجموعه سږکال يعني په ۲۰۰۹ کښې په ډېر ښائسته کاغذ چاپ شوې او بازار ته راغلې ده. کتاب مجلد دے او ټائټل ئې زړه راښکونکے دے، يو سل دوه نوي صفحې لري او قيمت ئې يو سل اتيا روپۍ دے. هسې خو درويش دراني صاحب خپل هر يو کتاب هم دغسې ډېر په ښۀ کاغذ او ښۀ



شمېرلے شي. خو بيا هم چې زۀ د هغوي په دې نوي کتاب خبره کوم نو کۀ چرته سهواً رانه د هغوي د شاعرۍ تعريف په لاشعوري توګه د خُلې نه ووځي نو د هغې د خپلو لوستونکو نه بخښنه غواړم.

درويش درانے يو ويښ، بيدار او ژوندے شاعر دے او ژوندۍ شاعري کوي او د خپل عصر ترجماني په هم هغه اندازه او هغه رنګ کوي د کومې چې د

کتابت خپلو ګرانو لوستونکو ته وړاندې کوي چې تري نه د هغوي د اعلي ذوق اندازه په اسانه لګېدے شي. دغسې هغه تقريباً په هر يو کتاب کښې اول يو مفصل فهرست ورکوي چې د غزل يا نظم لټولو په وخت لوستونکو ته اساني وي. په دې کتاب کښې هم دغه فهرست لکه د نورو کتابونو شته.

د دې کتاب وړومبۍ برخه غزلې او اخري برخه کښې نظمونه دي. د درويش دراني شاعري زما غوندې کم علمه بنده د تعريف محتاجه نۀ ده. ځکه چې درويش دراني په استاذانو شاعرانو کښې

يو ښۀ استاذ شاعر نه توقع کېدے شي. په يو فنکار کښې چې د خپل قام، وطن، خاورې او اولس سره کومه مينه لازمي وي هغه په درويش دراني کښې په بدرجۀ اتم موجوده ده. دغه وجه ده چې کۀ هغه غزل ليکي او کۀ نظم د پښتنې خاورې، پښتون اولس او د پښتنو د دې ټوکړې ټوکړې وطن تصويرونه پکښې په نظر راځي او زياته د ستائنې خبره پکښې دا ده چې هغه د دې رنګ وطن د نړېدلو بورجلونو، د شاړو لارو کوڅو او ګودرونو، چينو او چينارونو دومره صحيح تصويرکشي کوي چې بنده حېرانوي. د دې تصوير کشۍ په شا هر لوستونکے د هغۀ

داخلي كرب محسوسولے شي چې هغه په دې ځومره غمژن او پرېشانه دے.
رحمان بابا په خپل دور كښې وئيلي وو چې:

چې ئې نور شاعران كاندې هغه نۀ كا
رحمان كړے نوے نوے اجتهاد دے

د يو ښۀ شاعر دپاره دا ضروري ده چې د هغۀ لار د نورو نه جدا وي او د هغۀ شاعري دې د نورو شاعرانو نه منفرده وي. دا خبره ښاغلي درويش دراني ټكي په ټكي منلې ده او عمل ئې پرې كړے دے او ډېر پخوا ئې د نورو شاعرانو نه خپله لاره جدا كړې ده او د دغې جدا لارې اختيارولو دا ښاغلے د نورو شاعرانو نه ممتاز كړے او د شهرت بام ته رسولے دے.

د درويش دراني په دې نوې شعري مجموعه كښې چې كومې غزلې شاملې دي د هغې د لوستو نه پس زۀ دا په وثوق سره وايم چې دا وخت پښتون قام د كوم صورت حال سره مخ دے او د كومو كشالو نه تېرېږي د هغې تصوير كشي پكښې په ډېر ښۀ رنګ شوې ده لكه چې وائي:

تر څو به دوي په كلي كلي ګرځي دا به وائي
چې دا مېنه دې ورانه شي او هغه كور دې ړنګ شي

دغسې دا وخت چې پښتون اولس د كومې وېرې او ترهې سره مخ دے او هيڅ په چل ئې نۀ پوهېږي درويش درانے د خپل غزل په يو شعر كښې دې سانحې ته داسې ګوته نيسي:

په دې ګمان چې ور ئې دښمنان ورټكوي
درزا چې ئې د خپل زړۀ اورېدله ويرېدل

د اوسنو حالاتو نه ټول لوستونكي ښۀ خبر دي ځكه چې ټول په حېثيت مجموعي د دې حالاتو سره مخ دي درويش دراني په دې حقله وائي:

په حال پوره نۀ دے خبر څوک ئې راوګرځوئ
ځي او بې ځايه شيندي سر څوک ئې
راوګرځـــــــــــوئ

پښتون مري، د چا د لاسه مري، څوک ئې وژني او ولې وژلے شي؟ دې خبرو زمونږ شاعر پرېشانه كړے او په تردد كښې ئې اچولے دے ځكه خو وائي چې:

دے لـه واره وساتم كـۀ تـا لـه واره وساتم
زۀ پـه دغـه جنګ كښې څوک د چا لـه واره
وســـــــــــــاتم

د دښمن درک چې ځومره يو شاعر كولے شي هغه هومره درک ئې د دښمن معلوم كړے او خپلو پښتنو وروڼو ته ئې ښودل غواړي او په دې ټكو ئې پوهوي:

چالاک دښمن ئې ننداره د لرې لرې كوي
دوي په خپل منځ كښې يو په بل باندې لښكرې كوي

د ملک د واكمنو بې رخي او غفلت ته په دې لفظونو كښې اشاره كوي:

دښمن راغلے دے دننه ما په كور كښې تړي
زما د كور چې نګهبان دے هغه نۀ دے خبر

دغسې د ملک د ارباب اختيار، پوهه خلقو، دانشورانو او د سياسي مشرانو دې كوتاهۍ ته په دې شعر كښې ځومره په ښكلي انداز كښې اشاره كوي:

په حال خبرو خلقو هله زۀ په حال خبر كړم

چې دښمنان تر دروازې واړه راورسېدل

زهٔ د ښاغلي دراني صاحب د دې مجموعې نه صرف يو شعر بل وړاندې کوم او د نورو شعرونو پېش کولو نه ډډه کوم نور دې لوستونکي په خپله وګوري او خوند دې ترې نه واخلي. هغه شعر دا دے:

چې بيا نهٔ توره پورته شي نهٔ سر په وينو رنګ شـــــــــــــــــــي
باداره! دغه جنګ دې د وطن اخري جنګ شي